# ماشومانو مقدس کتاب
## وړاندې کونکے



# سموئیل، د خدایٔ خدمت کوونکے هلک

لیکونکے: Edward Hughes

خیال: Janie Forest
Alastair Paterson

خوښونکے: Lyn Doerksen


ترجمه کونکے: Aim4Faith Ministries


مددگار: Bible for Children
www.M1914.org

©2025 Bible for Children, Inc.
تاسو دا قیصئ نقل کولے شئ یا چاپ کولے شئ خو دا خرڅولے نۀ شئ.



حنه یوه نېکه ښځه وه. د هغې وادۀ یو نیک سړی القنه سره شوے وو. هغوئ دواړو د خدایٔ پاک عبادت کولو، او ټولو خلقو سره به په نرمۍ پیش کېدل. خو د حنه په ژوند کښې د یو څېز کمے وو. او هغه د اولاد کمے وو. د هغې دا ډېر ارمان وو. هغې انتظار وکړو، دعا ئې وکړه، اُمید یې ساتلو او ډېر انتظار یې وکړو. خو اولاد یې ونۀ شو.





هر کال به حنه د خدایٔ کور ته
عبادت د پاره تله. یوه ورځ هغه
د خدایٔ نه دعا وغواړی چې کهٔ
هغه ورله زویٔ ورکړی، نو هغه
به هغه هلک د همیشه د پاره د
خدایٔ پاک خدمت ته وقف کړی.

3



بوډا عیلی کاهن حنه په
دعا کولو ووینی. هغه
سوچ کوی چې حنه په
نشه کښې ده. ځکه چې
شونډې یې خوځېدلې
خو خولې نه یې
آواز نهٔ راوتلو.
عیلی حنه ورتی.


4



خو حنه عیلی ته د
هغه وعدې په حقله
ووائی چې خدایٔ پاک
سره یې د خپل زویٔ په
حقله کړې وی. عیلی جواب
ورکړی، په خیر لاړه شه، او د
اسرائیلو خدایٔ دې ستا د دعا
قبوله کړی. د عیلی خبرو نه
حنه ته اُمید ملاو شی.

5

ډېر زر د حنه زړهٔ د خوشحالۍ نه ډک شی. خدایٔ پاک
هغه رایاده کړی. د هغې دعا قبوله کړی. د هغې او د القنه
یو زویٔ پیدا شی چې نوم یې سموئیل کیږدی. چې مطلب
ئې دے خدایٔ اورېدلی دی. خو آیا حنه ته هغه وعده یاده
وی چې خدایٔ پاک سره یې کړې وی؟



6



حنه هر کال د خدایٔ عبادت
د پاره تلل پریږدی. اوه،
ګرانو، هغې خدایٔ پاک
سره خپله وعده ما ته کړه
ځهٔ؟ نه، حنه انتظار کولو
چې کله سموئیل دومره
غټ شی چې د خدایٔ په
کور کښې د پاتې کېدو
جوګه وی او د خدایٔ په
خدمت کښې د عیلی مدد کولے شی نو
بیا هغه د خدایٔ کور ته لاړه شی.


7



خدایٔ پاک حنه له د هغې
د وفادارۍ په وجه
برکت ورکړی. د
سموئیل نه پس خدایٔ
پاک هغې له درې نور
زامن او دوه لوڼه هم
ورکړی. حنه هر کال د
خدایٔ پاک عبادت د
پاره ځی. او هر کال د
سموئیل د پاره یوه نوې
چوغه راوړی.


8

صرف سموئیل د عیلی مدد ګار نۀ وو. بلکه د عیلی زامن حفنی او فینحاس هم هلته کار کولو. خو هغوئ په بدو کارونو کولو سره د خدائ پاک سپکاوے کولو. هغوئ بد کارونه نۀ پرېښودل. د هغوئ پلار عیلی به ورته هم منت کولو چې بد کارونه پرېږدئ. عیلی له پکار وو چې هغوئ د خدائ په کور کښې د کار نه منع کړی. خو هغې داسې نۀ کول.




9

یوه شپه، سموئیل یو آواز واوری. هغه لک دا سوچ کوی چې عیلی راته آواز کوی. هغه راشی او ورته ووائی چې زۀ حاضر یم. عیلی ورته جواب ورکړی چې ما خو تا له آواز نۀ دے درکړے. داسې درې ځله وشی. بیا عیلی ته معلومه شی چې خدائ پاک سموئیل سره خبرې کول غواړی.



10

عیلی سموئیل ته ووائی، کۀ هغه تا له آواز درکړی نو ورته ووایه چې اے مالکه زۀ حاضر یم، ستا بنده ستا آواز اوری. او خدائ پاک یو ځل بیا سموئیل له بلنه ورکړی او سموئیل له یو ډېر خاص پېغام ورکړی.




11

سحر وختی عیلی سموئیل را وغواړی. تپوس ترې وکړی چې خدائ پاک تا ته څۀ وئیلی دی؟ سموئیل ورته ټول هر څۀ ووائی. دا یو یرروونکے پېغام وو. خدائ پاک د عیلی ټول خاندان هلاکول غوښتل، ځکه چې د حفنی او فینحاس بدکاری ډېره زیاته شوې وه.




12

د خدائ پاک خبردارے ربښتینے ثابت شی. د فلستیانو سره د جنګ په دوران کښې د عیلی دواړه بد کاره زامن مړۀ شی. چې د خدائ پاک د لوظ صندوق ئې د اسرائیل د لښکر نه مخکښې وړلو. دشمنانو د هغوئ نه د لوظ صندوق واخستلو، او حفنی او فینحاس يې د نورو اسرائیلیانو سره قتل کړل. کله چې عیلی دا واورېدل نو هغه د خپلې کرسئ نه ښکه وغورزېدو، څټ یې مات شو او په هم هغه ورځ مړ شو.



13

د خدائ پاک د لوظ صندوق په فلستیانو مصیبت راوستلو. هغوئ هغه د دجون په مندر کښې کېښودو. چې د هغوئ دروغژن معبود وو. سحر د دجون بت اُلټا مخ په وړاندې راپرېوتلے وو. فلستیانو هغه بیا ودرولو. خو بله ورځ سحر هغه بیا را پرېوتلے وو. دا ځل د دجون بت ټکړې ټکړې شو.




14

بیماریٔ او مرګ په فلستیانو کښې خور شو. دې کتلو د پاره
چې خدائ پاک هغوئ له سزا ورکوله،
نو فلستیانو دوه لنګې غواګانې
واخستلې چې هغه ګاډئ راکاږی
چې په کښې د لوظ صندوق
لیږلے کېدو. خو هغوئ د
غواګانو بچی ځان سره وساتی.
هغوئ وئیل کۀ چرې دا
غواګانې اسرائیل ته لاړې شی
او خپل بچی دلته پریږدی نو مونږ
به پوهه شو چې خدائ پاک داسې
کړی دی. او بیا غواګانې لاړې.



15

بیا سموئیل چې اوس ځوان
زلمے وو، هغه د اسرائیلو
ټولو خلقو سره خبرې وکړی
او ورته ووائی چې کۀ تاسو د
زړۀ نه خدائ پاک ته را
وګرځئ نو هغه به د فلستیانو
نه تاسو له خلاصون درکړی.
خلق د خدائ پاک د وفاداری
نبی تابعداری وکړی. او د
سموئیل په ټولو ورځو کښې
د مالک خدائ لاس د
فلستیانو خلاف وو.



16

سموئیل، د خدائ خدمت کوونکے هلک

دَ خدائ په کلام په مقدس کتاب کښې دا قیصۀ

شته دے

۱ سموئیل ۱ - ۷

"ستا دَ خبرو تشریح نُور بخښی ـ"

زبور 130:119

17

# ختم شو

17

60

18

دا قیصۀ مونږ ته زمونږ د حیرانونکی خدائ په باره کښې ښودنه کوې چې چا
مونږ پیدا کړو او چې څوک غواړی چې هغه مونږ وپیژنو.

خدائ پوهیږی چې مونږ ډیر علط کارونه کړی دی، چې هغې ته هغه ګنا وایې.
د ګنا مزدوی مرګ دے خو خدائ مونږ سره ډیره مینه کوې نو ځکه هغۀ خپل
یک یو زوئ راولیږلو چې هغه زمونږ د ګناهونو د خاطره سزه وزغمې او په
سولئ خپل ځان قربان کړې.او بیا عیسی د مړو نه ژوندے شو او آسمان ته
لاړو. کۀ تۀ په عیسی باندې ایمان راوړې او د هغۀ نه د خپلو ګناهونو بخښنه
غواړې نو هغه به تا ته بخښنه وکړې. هغه تا خواته راځی او ستاسو دننه به
استوګنه کوی او تۀ به هغه سره د همیشه د پاره ژوندے اوسیږی.

کۀ تۀ په دې ایمان لرې چې دا رښتیا دی نو خدائ ته ووایه.خوږه عیسی زۀ
ایمان لرم چې هم تۀ خدائ یې. تا زما د خاطره پیدا شوې او زما د خاطره مړ
شوې او اوس تۀ د تل د پاره ژوندے یې. زما په ژوند کښې راشه او زما
ګناهونه وبخښه، چې زۀ هم د نن نه ژوندون وموممم او د همیشه د پاره تاسره یم.
زما مدد وکړه چې زۀ ستا تابعداری وکړم او ستا زوئ یا لور جوړه شم. آمین
مقدس کتاب ولولئ او خدائ سره روزانه خبرې وکړئ، یوحنا۳:۱۲

19